## مرستې او پوروڼه

ځینې خیریه اداري او سازمانونه لکه سیمه ییزې شوراګانې ممکن هغو خلکو ته مالي مرسته وړاندې کړي چې لېږ عاید لري. پدې کې ممکن یو ځلي مرستې یا واؤچرونه شامل وي. د نورو معلوماتو لپاره، د مکمیلن ملاتړ کرښې (Macmillan Support Line) سره په وړیا توګه په 00 00 808 0808 اړیکه ونیسئ.

## د خپل ځان لپاره مناسب پاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسې سرطان لرئ او په انګلیسي ژبه کې خبرې نه کوئ، تاسو شاید اندېښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او پاملرنه باندې اغېز وکړي. مګر ستاسې د روغتیا پالنې ټیم باید تاسو ته داسې پاملرنه، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کړي.

موږ پوهېږو چې ځینې وختونه خلک شاید د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې له اضافي ننګونو سره مخ شي. د مثال په توګه، که تاسو کار کوئ یا کورنۍ لرئ، تاسو ممکن د پیسو او ټرانسپورټ لګښتونو په اړه هم اندېښنه ولرئ. دغه ټول شیان سټرېس رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته ده.

## مکمیلن (Macmillan) له تاسې سره څرنګه مرسته کولی شي

په مکمیلن (Macmillan) کې، موږ پوهېږو چې د سرطان تشخیص څنګه کولای شي په هر څه باندې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د ملاتړ لپاره یو.

### د مکمیلن ملاتړ لاین (Macmillan Support Line)

موږ ترجمانان لرو نو تاسو کولی شئ زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. یوازې موږ ته په انګلیسي ژبه د هغې ژبې په هکله ووایاست چې تاسو پرې خبرې کول غواړئ.

زموږ د مکمیلن ملاتړ کرښې (Macmillan Support Line) متخصص سلاکاران کولی شي د طبي پوښتنو په پار درسره مرسته وکړي یا که چیرې تاسو د چا سره د خبرو کولو لپاره اړتیا لرئ نو د اوریدو لپاره حاضر دي. موږ کولی شو ستاسو د پیسو اندیښنو په اړه هم خبرې وکړو او نور ګټور سازمانونه درته وړاندیز کړو ترڅو درسره مرسته وکولی شي. وړیا، محرم تلیفوني کرښه په اونۍ کې 7 ورځې، د سهار له 8 بجو څخه تر ماښام 8 بجو پورې خلاص وي. موږ ته په 00 00 808 0808 شمیره باندې زنګ ووهئ.

### د مکمیلن (Macmillan) ویب پاڼه

زموږ ویب پاڼه د سرطان په هکله په انګلیسي ژبه ډېر معلومات لري. دلته [macmillan.org.uk/translations](macmillan.org.uk/translations) په نورو ژبو کې لا ډېر معلومات شته.

موږ ممکن ستاسو لپاره د ژباړې د خدماتو ترتیب هم برابر کړو. د هغه څه په اړه چې اړتیا ورته لرئ، موږ ته په [informationproductionteam@macmillan.org.uk](mailto:informationproductionteam@macmillan.org.uk) باندې برېښنالیک واستوئ.

